بسم الله الرحمن الرحيم

## دعا طبيعي قوانين بدلوي!

**(ژباړه)**

زموږ د عبرت او د دې لپاره چې د الله سبحانه وتعالی د عظیم ذات په اړه ډاډمن شو، نو الله سبحانه وتعالی مو لاندې شپږو مواردو ته پام رااړوي:

**لومړی مورد:** د عمران مېرمنې الله سبحانه وتعالی ته سوال وکړ، چې الله سبحانه وتعالی يې هغه زوی، چې په ګېډه کې يې دی، نذر ومني. الله سبحانه وتعالی يې دعا قبوله کړه او دغه د طبيعي قوانينو تغيير وو. هغې ته يې د مريم په نوم لور ورکړه او له هغې څخه يې عيسی عليه السلام له خاوند پرته پيداکړ. هغه خلقت چې له عادي او طبيعي جريان سره په ټکر کې و، چې دليل يې دعا وه. دغه راز د عيسی عليه السلام کيسه به تر قيامته، د نورو قومونو د ازمويلو لپاره پاتې وي.

**دويم مورد:** زکريا عليه السلام دعاء وکړه، الله سبحانه وتعالی يې دعاء قبوله کړه او موجوده طبيعي قوانين يې بدل کړل. مېرمنې يې حامله شوه، په داسې حال کې چې هغه سپين ږيری و او د اولاد څښتن کېدو وس يې نه درلود. دغه راز د مېرمنې د حامله کېدو وخت يې تېر شوی وی. الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

**﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَىٰ وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ﴾**

[انبياء:۹۰]

***ژباړه:*** *موږ د هغه دعا قبوله کړه او هغه ته مو يحيا علی السلام ورکړ. د هغه مېرمن مو له شنډېدو څخه واېستله. دغو کسانو د نيکۍ په لاره کې منډې وهلې. د وېرې او ميلان پر مهال يې موږ بللو او زموږ پر وړاندې غاړه اېښودونکي وو.*

**درېيم مورد:** نوح عليه السلام له الله سبحانه وتعالی څخه وغوښتل چې يو کافر هم د ځمکې پر مخ پرې نه ږدي. الله سبحانه وتعالی د هغه دعا قبوله کړه او د طبيعت قوانينو ته يې تغيير ورکړ او همدارنګه ټوله ځمکه يې په اوبو کې ډوبه کړه. الله سبحانه وتعالی په دې اړه فرمايلي دي:

﴿وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ﴾

[انبیاء:۷٦]

***ژباړه:*** *همدغه نعمت موږ نوح علیه السلام ته ورکړ. هغه وخت د ریاد کړه، چې هغه له ټولو څخه مخکې موږ ته غږ کړی و، موږ یې دعا قبوله کړه او د هغه کورنۍ مو له لوی کړاو څخه وساتله.*

**څلورم مورد:** د الله سبحانه وتعالی په دربار کې د یونس علیه سلام دعا؛ الله سبحانه وتعالی د هغه دعا قبوله او د طبیعت قوانین یې وځنډول. کب (ماهي) یونس علیه السلام هضم نه کړ. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ ۚ وَكَذَٰلِكَ نُنجِي الْمُؤْمِنِينَ﴾

[انبیاء:۸۸]

***ژباړه:*** *د هغه دعا مو قبوله کړه، له غم څخه مو وژغوره او موږ په دغه ډول مومنان ژغورو.*

**پنځم مورد:** الله سبحانه وتعالی د ایوب علیه السلام دعا قبوله کړه او هغه ته یې له ناعلاجه ناروغۍ شفا ورکړه. دغه راز مېرمن یې ورته ځوانه کړه، ځو زامن ورته وزېږوي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِن ضُرٍّ ۖ وَآتَيْنَاهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَابِدِينَ﴾

[انبیاء:۸٤]

***ژباړه:*** *موږ د هغه دعا قبوله او له تشویش څخه مو خلاص کړ. د هغه کورنۍ مو ورنه کړه، خو سربېره پر دې مو هغومره نور ورکړل، چې زموږ له خوا د رحمت او عبادت کوونکو ته د عبرت په توګه یو درس وي.*

**شپږم مورد:** ابراهیم علیه السلام په داسې حال کې دعا وکړه، چې سپین ږیری و او نېک زامن یې غوښتل؛ الله سبحانه وتعالی اسماعیل او اسحاق ورکړل. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ ۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ﴾

[إبراهيم: ۳۹]

***ژباړه:*** *د الله سبحانه وتعالی شکر اداکوم، چې ماته يې په دې سپين ږيريتوب کې اسماعيل او اسحاق راکړل. زما رب هرومرو د دعا اورېدونکی دی.*

نو اې مومنانو! په الله سبحانه وتعالی تکيه وکړئ او ډاډمن اوسئ، چې هغه قادر او توانا دی. په دې باور ولرئ، چې ستاسو دعا بېځایه نه ځي. الله سبحانه وتعالی يې قبلوي او ځينې وختونه يې د دعا لپاره شته واقعيتونه او د طبيعت قوانين بدل کړي هم دي. خو د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې بايد ستاسو په دعا کې صداقت وي، د ايمان قوت پکې وي او پر دې باوري وئ، چې الله تعالی مو دعا قبلوي. دغه راز په دعا کې حسن توکل وي او په دې پوه شئ، چې الله سبحانه وتعالی مومنانو ته نصرت ورکوي او مرسته ورسره کوي. الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

**﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ﴾**

[غافر: ۵۱]

***ژباړه:*** *پر دې باور ولرئ، چې موږ په دې دنيا، په ژوند او هغه ورځ چې کله شاهدان ولاړ وي، له دوی سره مرسته کوو.*

د مظلومانو او صالحينو دعاګانې بېځايه نه دي تللې او هېڅکله به ولاړې نه شي. زموږ رب پوه او باحکمته دی او ژمنه يې حق ده. د دين ځواکمنېدل او صالحو بنده ګانو ته د ځمکې د حاکميت ورکړه راتلونکې ده. نو هڅه وکړئ، چې نصرت او بريا ستاسو په برخه شي، نه د نورو. دغه راز تاسو هڅه وکړئ، چې ستاسو په لاسونو دين ځواکمن شي، نه د نورو.

هېڅوک بايد داسې ونه وايي چې د معجزو وخت له منځه تللی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په نبوت سره معجزې ختمې شوي دي. موږ وايو، د معجزو رب شته او کله چې د څه شي اراده وکړي، وسايل يې برابروي.

**﴿إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَن يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴾**

[يس: ۸۲]

***ژباړه:*** *هغه چې کله د يوه شي اراده وکړي، نو د هغه کار داسې دی چې حکم ورته وکړي، چې شه! هغه کېږي.*

په ډېرى ځايونو کې مو وليدل، چې څه ډول يې کوچنۍ ډلې پر لويو برلاسې کړې او په دې هم پوهېږو، چې الله سبحانه وتعالى متقيانو ته د وتو لار هواروي. دغه راز له هغې لارې روزي ورکوي، چې هېڅ گومان يې هم نه کوي. په دې مو يقين دى، هغه څوک چې پر الله سبحانه وتعالى توکل وکړي، نو الله سبحانه وتعالى د هغه لپاره کافي دى. د الله سبحانه وتعالى قدرت مو وليد، چې څه ډول يې ماته په بريا بدله کړه او دې ته ورته نورې بېلگې په تاريخ کې لرو. نو اې مسلمانانو! له دعا سره سره مو خپل هغه تکليف (مسووليت) چې امر يې درته شوى اداکوئ. بخيل مه اوسئ الله تعالى مو تر ټولو ښه ملگرى دى.

**ليکوال: احمد العلي ـولايه اردن**

**ژباړن: حبيب الله**